

**World Population Day #WPD2016**

**Investing in teenage girls for a more just, stable and peaceful world**

# رسنیزه اعلامیه

## پر ځوانو نجونو پانګونه د یوې عادلانه، باثباته او سوله ییزې نړۍ لپاره

کابل، د چنګاښ **۳۰**مه **۱۳۹۵** کال - د افغانستان اسلامي جمهوریت د اقتصاد وزارت، د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق ، د دولت نورو وزارتونو ، ملي او نړېوالو مؤسسو او افغان نجونو زده کوونکو د وګړو نړیوالې ورځې لمانځغونډه سږکال د ځوانو نجونو د وضعیت په ډاګه کولو سره ولمانځله او همدارنګه یې په ډاګه کړه چې د ټولنې د پرمختګ لپاره د نجونو پیاوړتیا او ګډون څومره اهمیت لري.

د **۲۰۱۶** کال د وګړو نړېوالې ورځې موضوع "پر ځوانو نجونو پانګونه" ټاکل شوې او موخه یې داسې نړۍ ده چې عادلانه، باثباته او سوله ییزه وي.

د غونډې په اوږدو کې جلالتماب داکتر محمد اسماعیل رحیمی د اقتصاد وزارت معین وویل "بی له شکه چې افغانستان د نجونو د زده کړو او ګډون په برخه کې بی شاری پرمختګ کړی دی، خو موږ منو چې د پاییدونکی پرمختګ موخو ته د رسیدو لپاره لا زیات کوښښ وکړو او د افغانستان اسلامی جمهوریت ژمن دي چې تر **۲۰۳۰** کال پوری د **۵۰ –۵۰** نړۍ موخي ته د رسیدو لپاره د خپلي برخی زیار وباسی.

همدارنګه په غونډه کې داکتر بنت اندیانابانجی د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق استازی وویل، **۷۵** په سلو کې نجونې له **۱۹** کلنی څخه کم عمر کې ودیږي او **۴۰** په سلو کې نجونې د **۱۰** او **۱۳** کلونو عمر کې او **۳۲** په سلو کې نجونې له **۱۴** کلونو څخه کم عمر کې او همدارنګه **۲۷** په سلو کې له **۱۵** کلنۍ څخه کم عمر کې ودیږي. په دی سره د افغانې نجونو له ځنو نورو مخ پر وده هیوادونو څخه زیاتره د کم عمر د ودونو قربانی کیږی. په کوچنیوالی او کم عمر کې واده له هغو ناوړه دودونو څخه دي چې د بی وزلی او نابرابری څرخ ته دوام ورکوی او د نجونو بشری حقونه تر پښو لاندی کوي. دا یوه ستره ننګونه ده او تر څو چې موږ یو له بل سره لاس یو نکړو او ددی پروړاندی مبارزه ونکړو دغه ننګونه به همداسی د نجونو د زده کړی او ګډون په وړاندی یو خنډ پاتی شي.

د افغانستان د احصائیې د مرکزي ادارې د **۲۰۱۴** کال د ارقامو له مخې ټول ټال **۹،۲** ملیونه افغان زده کوونکي په بېلابېلو رسمي زده کړو کې شامل دي لکه لومړنۍ، منځنۍ او د لیسې دورې زده کړې، مسلکي زده کړې، د شپې ښوونځي او داسې نور. لدې جملې څخه **۳،۷** ملیونه نجونې دي چې د پورته ذکر شوي رقم **۳۹،۵** سلنه جوړوي.

له بل پلوه، که په لوړو زده کړو کې د نجونو او هلکانو ټولیزه شمولیت ته وګورو له ابتدایی زده کړو څخه یې شمیر ډیر زیات ټیټ دی او همدارنګه د هلکانو او نجونو د شمولیت تر منځ هم یو ستر توپیر څرګندوی. داسی چې **۳۰۰** زره هلکان او نجونې زده کوونکي په پوهنتون کې شامل دي چې لدې جملې یوازی **۲۵** زره یې نجونې دي. دا ارقام پدې معنی دي چې له **۵** نجونو څخه **۴** نجونې به هیڅکله پوهنتون ته د تګ چانس ترلاسه نه کړي، له خپلې وړتیا به هیڅکله ګټه پورته نکړی او ډیر زیات امکان یی داده چې دغه نجونې به راتلونکې نسل ته بې وزلي وزیږوي.

د پاییدونکی پرمختګ د اجندا بریا په دی پوری اړه لری چې موږ په څومره ښه ډول د نجونو ملاتړ کوو او په هغوی باندی پانګونه کوو. کله چې د افغانستان په څېر هیوادونه له ځوانانو په ځانګړي ډول له نجونو ملاتړ او پانګونه پرې وکړي، د وړتیا کارولو ته یې زمینه برابره کړي، نو هیواد به له دیموګرافیک امتیاز ریښتیا کړي او همدارنګه به اقتصادي پراختیا ګړنده کړي او له بی وزلی سره مبارزه وکړي.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره اړیکه:


د اقتصاد وزارت
شمیره: **۰۷۰۰۴۸۴۹۰۵**
ایمیل:

د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق د اطلاعاتو او تبلیغاتو دفتر
شمیره: **۰۷۲۹۲۲۱۳۴۳**
بریښنا لیک: amarkhil@unfpa.org